مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۴/۲۰

# ما ګوتو کې نیولی و قلم په هغه دم

چې ووینې اغیار سره صنم په هغه دم
دا زړه د سرې وچوې لکه بم په هغه دم

چې تا زما پر لور ماشه په ګوته راکاږله
ما ګوتو کې نیولی و قلم په هغه دم

چې ونیوهٔ شبکورو احساساتو ځای د علم
راشین مې په رڼا کې شو تورتم په هغه دم

رسی د روایاتو یې چې دار شوله مرۍ ته
د ملک له ژونده ووتلو دم په هغه دم

چې زړه کې به مې و ټوکېدې نوې نوې هیلې
باوره ټک به راکړلو لړم په هغه دم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ